# د ځنګل بادشاه

پښتو

پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامى سبق لوستلو نه مخكښې دا لاندې دُعا لولئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې كيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه:** اے الله پاكه په مونږه د عِلم او حِكمت دروازې برسيره [يعني بيرته] كړې او په مونږه خپل رحمت رانازل كړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفكر بيروت)

طالب غم مدينه بقيع ومغفرت

(اول او آخر كښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: د ځنګل بادشاه

اول ځل: ..............................................

تعداد: ......................

ناشِر: مكتبةُ المَدينه، عالمى مدني مركز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه كراچۍ.

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے د چاپ كولو اجازت نشته**

**كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ**

كه د كتاب په طباعت كښې څه ښكاره خامي وي يا پاڼې كمې وي يا په بائنډِنګ كښې مخكښې وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوكړئ.

دا رِساله ”جنگل کا بادشاہ“ په اردو ژبه کښې ليکلې شوې ده.

ټرانسليشن ډيپارټمنټ (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## ټرانسليشن ډيپارټمنټ دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د ځنګل بادشاه

دعائے عطار! یارَبَّ الـمُصطفٰی! څوک چې دا رساله ”د ځنګل بادشاه“ اولولي یا واوري، هغه ته صرف خپله ویره ورنصیب کړې او د هغه نه همیشه د پاره رضا شې.
اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د آخري نبي، مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چاته چې څه مشکل پیښ شي هغوئي ته په ما کثرت سره [یعني ډیر ډیر] درود شریف لوستل پکار دي ځکه چې په ما باندې درود شریف لوستل مصیبتونه او بلاګانې لرې کوي.
(القول البدیع، ص414)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ازمرے ئې د غوږ نه اونیولو

صحابي اِبنِ صحابي، حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا د سفر په دوران کښې یو ځل د داسې خلقو په خوا تیریدلو کوم چې یو ځائے کښې په څه وجه ولاړ وو. هغوئي د هغه کسانو نه ئې پوښتنه اوکړه نو هغوئي اووئیل چې په لاره کښې یو ازمرے دے چې مونږه ئې ویرولي یو. دې اوریدلو سره حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا د سورلۍ نه کوز شولو او ازمرے ئې د غوږ نه اونیولو او د لارې نه ئې ډډې ته کړو او اوئې فرمائیل: د الله پاک آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستا په حقله صحیح فرمائیلي دي چې بے شکه په بنیادمو هغه مسلط کولے کیږي د څه نه چې هغوئي ویریږي او بنیادم هغه ته سپارلے کیږي د څه نه چې هغه طمع لري. که چرې هغوئي د الله پاک نه علاوه د بل چا نه طمع اونه لري نو الله پاک به هغه چاته هم نه سپاري.

(تاریخ ابن عساکر، 171/31، رقم: 3421، حدیث: 6498).

د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

شیر کا خطرہ کیا شیر خود کانپ اٹھا! سامنے جب نبی کا غلام آ گیا

خوږو اسلامي او محترمو وروڼو! د اللّٰه پاک نه ويره ډير لوئي نعمت دے چا چې دا نعمت اوموندلو ، د اللّٰه پاک په رحمت سره هغه کامياب شو. د چا په زړه کښې چې صرف د اللّٰه پاک ويره وي د دنيا هر څيز د هغه نه ويريږي. مونږه کمزوري او نادانه خو د ازمري د نوم اوريدلو سره هم ويريږو. کاش چې د اللّٰه نه ويره لرونکو په وسيله مونږ ته د اللّٰه پاک د ويرې يوه ذره د اخلاص سره رانصيب شي.

خدایا ترے خوف کا ہوں میں سائل سدا دل رہے تیری اُلفت میں گھائل

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ازمري 500 نومونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اوس په دې واقعه کښې تاسو د يو خطرناک ځناور په باره کښې اولوستل، داسې خطرناک ځناور کوم ته چې د ځنګل بادشاه وئيلے شي. دې رساله کښې د اللّٰه پاک په دې مخلوق کښې موجودو د اللّٰه پاک د قدرت د مختلفو عجائباتو په حقله معلومات وړاندې شوي دي، پوره رساله اولولئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم د دين او دنيا معلوماتو کښې به مو اضافه اوشي، ازمرے په ځناورو کښې د ټولو نه مشهور ځناور دے، شير د فارسئ ژبې لفظ دے، عربئ ژبه کښې د ده پاره درې لفظونه مشهور دي (1)"لَيْث (2)اَسَد او (3)غَضَنْفَر". د اهل عرب د يو قول مطابق 150 او د بل قول مطابق د ازمري د پاره 500 الفاظ استعمال شوي دي. (المزہر فی علوم اللغۃ، جز:1، 256/1، 257) اردو کښې ازمري ته "شير" او انګريزئ ژبه کښې ورته (Lion) وائي.

## د انساني مخ والا ازمرے

ازمرے په نورو ځناورو کښې خاص اهميت لري ځکه چې ځنګلي ځناورو کښې د ازمري مثال د هغه د بهادرئ، بے رحمئ او د زړه د سختئ وغيره په وجه د رُعب او دبدبے والا بادشاه په شان دے. ځکه په زَړَورتيا، بهادرئ او جُرأت کښې د ازمري مثال ورکولے شي. د ازمري ډير قسمونه دي، په حَيَاةُ الحَيَوان کښې دي چې د ازمري يو عجيبه قسم ليدلے شوے دے د کوم رنګ چې سور وو. د هغه مخ د انسان د مخ په شان وو او د هغه لکئ د لړم په شان وه. د ازمري دې قسم ته عربئ ژبه کښې " اَلْوَرْد" يعني ګلاب وئيلے شوے دے. حياةالحيوان،10/1)

## د ازمري خاصيتونه

د ازمري په صفتونو کښې يو صَفَت دا هم دے چې ازمرے لوږه کښې صبر او برداشت کوي. ده ته د اوبو ضرورت ډير لږ محسوسيږي او دا د نورو ځناورو ښکار (يعني جوټه) نه خوري. د ښکار په غوښه چې کله موړ شي نو نوره هم هلته پريږدي او بيا د هغې نه نه خوري. د لوږې په حالت کښې ازمرے لږ په غصه کښې وي خو چې کله موړ وي نو بيا سست شي. ازمرے د نورو ځناورو او خاص طور د سپي جوټه اوبه هيڅ کله هم نه استعمالوي. (حياةالحيوان،جلد10/1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ازمري دې خبرو کښې زمونږ د پاره سبق دا دے چې ازمرے ځنګلي ځناور دے، بيا هم لوږه کښې صبر کوي خو ناپوهه انسان د لوږې په حالت کښې څه څه نه کوي، د حرامو خوړلو، د رشوت لين دين کولو، د غلا او شوکې کولو او د مرګ ژوبلې وجه هم ځيني وخت لوږه وي. داسې نادان خلق کوم چې د خپلې لوږې ختمولو د پاره ګناهونه کوي، هغوئي له د ځنګلي ځناور ازمري نه سبق اخستل پکار دي کوم چې په لوږه کښې صبر او برداشت کوي. کله چې ازمرے موړ شي نو هغه خپل ښکار پريږدي خو د داسې خيټور کس سره څه اوکړے شي چې د

هغه خيټه خو ډکه شي خو زړه ئې نه مړيږي، د نفسِ اَمّاره د تابعدارئ ئې داسې جذبه وي چې "څه پرې خورې انکار نه کوي" يعنې دا نه ګوري چې حلال دي او که حرام. چا رښتيا وئيلي دي:

بڑے موذی کو مارا نفسِ اَمارہ کو گر مارا نہنگ و اژدہا و شیر نر مارا تو کیا مارا

وضاحت: که چا مکر مچھ، غټ مار او ازمرے هم مړ کړو نو هيڅ کمال ئې اونکړو، کمال خو هله دے چې د الله پاک نافرماني کوونکے نفسِ اَمّاره مغلوبه کړي او په خپله قابو کښې ئې راولي.

نفس و شیطاں پر مجھے غَلَبہ عطا کر یاخدا اُس علی کا واسِطہ دیتا ہوں جو ہے تیرا شیر

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د الله پاک ازمرے

اے عاشقان صحابه و اهل بيت! ازمرے د همت نښه ده. بهادرانو ته عام طور خلق "ازمري" وائي. امام نجم الدين غزي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: الله پاک د خپل خوږ نبي، مکي مدني، مُحَمَّد عَرَبِی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشبيه د ازمري سره ورکړې ده. که چرې دا د لوړې درجې تعريف او مدح نه وے نو الله پاک به د خپل محبوب تشبيه د ازمري سره نه ورکوله. د 29 سيپارے سورةُ الْمُدَّثِّر اَيت نمبر 49 نه 51 کښې ارشاد دے:

فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٩﴾ كَاَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: نو په هغوئي څه اوشو چې د نصيحت نه مخ اړوي. لکه راپاريدلي خره چې وي. چې د ازمري نه تښتيدلي وي. (حسن التنبه، 456/11)

د دې اَيت په تفسير کښې دي: مشرکان په نادانئ او بيوقوفئ کښې د خرو په شان دي لکه څنګه چې خره ازمرے اووينې نو د ويرې نه تښتي. دغه شان دا خلق هم چې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قرآن تلاوت واوري نو تښتي. (خازن، المدثر، تحت الآية: 49-51، 4/332)

بگڑی ناؤ کون سنبھالے ہائے بھنور سے کون نکالے
ہاں ہاں زور و طاقت والے تم پر لاکھوں سلام
تم پر لاکھوں سلام

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# تول صحابهٔ کرام ازمري دي

اے عاشقان صحابه و اهل بیت ! تول صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم په طاقت او بهادرئ کښې ازمري دي، وومه هجرئ کښې د اصحاب کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم په حقله یو کتاب لیکلے شوے دے چې نوم ئې اُسُدُالْغَابَهْ دے یعني ”د ځنګل ازمري“. بعضو احادیثو مبارکو کښې د نومونو اختستو سره بعضې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ته د ازمري مثل فرمائیلے شوے دے، ځنګه چې د بهادرانو افسر، فاتح خیبر، حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته د مسلمانانو ماشوم ماشوم شیرِ خدا [یعني د الله ازمرے] وائي. دنیاوي ازمرے کیدل د درناوي خبره نه ده البته د الله پاک ازمرے جوړیدل ضرور د فخر خبره ده، د مسلمانانو د خلورم خلیفه حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی شیرِ خدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ مشهور لقب اَسدُ الله یعني د الله ازمرے دے. د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شعر دے:

اَنَا الَّذِیْ سَمَّتْنِیْ اُمِّیْ حَیْدَرَہ کَلَیْثِ غَابَاتٍ کَرِیْہِ الْمَنْظَرَہ
(مسلم، ص775، حدیث:4678)

(یعني زه هغه یم چې زما مور زما نوم حیدر (یعني ازمرے) ایښودے دے. زه د ځنګل د ازمري په شان هیبت ناک یم.)

شیر شمشیر زن شاہِ خیبر شکن پر تَوِ دستِ قدرت پہ لاکھوں سلام

شرحِ کلام رضا: امامِ اهل سنت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د مسلمانانو خلورم خلیفه شیرِ خدا، مولا علی مشکل کُشا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د الله پاک داسې

ازمرے دے کوم چې په توره وهلو کښې ډېر ماهر دے. هغوئي هغه بادشاه دے چا چې د خیبر قلعه فتح کړه، د دستِ قدرت په دغه سوري ډېر ډېر سلامونه وي. بل چا هم څه ښهٔ وئیلي دي:

شاہِ مرداں ، شیر یزداں ، قوتِ پروردگار　　لا فَتٰی اِلَّا عَلِیْ لَا سَیْفَ اِلَّا ذُوالفقار

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په ووم آسمان لیکلے شوي دي

زما خوږ خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل خوږ ترهٔ حضرت حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په حقله ارشاد اوفرمائیلو: یَاحَمْزَۃُ یَا عَمَّ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَأَسَدَ اللّٰهِ وأَسَدَ رَسُوْلِه یعنی اے حمزه! اے د رسولُ الله ترهٔ! د الله او د هغه د رسول ازمریه!. (شرح الزرقانی علی المواہب،4/470) د خوږ مصطفے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په هغه پاک ذات مې قسم وي د چا په قبضهٔ قدرت کښې چې زما ځان دے! په ووم آسمان دا لیکلے شوي دي حضرتِ حمزه د الله او د هغه د رسول (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ازمرے دے.

(مستدرک، 4/204 ، حدیث:4950) (حلیة الاولیا،9/154، رقم:13490)

اُن کے آگے وہ حمزہ کی جانبازیاں　　شیرِ غُرّانِ سَطوَت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش، ص308)

شرحِ کلامِ رضا: د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخکښې د بهادرئ او جُرأت سره د ځان قربانوونکي ازمري په شان د رسولُ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ترهٔ حضرتِ حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ډېر ډېر سلام.

په مسلم شریف کښې دي: د مسلمانانو وړومبے خلیفه حضرتِ ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د صحابيِ رسول حضرتِ ابوقتاده رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په حقله ارشاد اوفرمائیلو: دا د الله پاک د ازمرو نه یو ازمرے دے. (مسلم، ص745، حدیث:4568) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

وہ خدا کے شیر ہیں، وہ مصطفٰے کے شیر ہیں ہم سگِ غوث و رضا ہیں، ہم سگِ اجمیر ہیں
صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ازمري نه نه ويرېږي

اے عاشقانِ اولیاء! د الله پاک د نیکانو بندګانو هم څه ښۀ ښکلے شان وي څنګه چې د عظیم تابعي بزرګ حضرتِ عمرو بن عتبه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه غلام وائي چې د سختې ګرمۍ په ورځ یو ځل مونږ راوېښ شو نو مونږه حضرتِ عمرو بن عُتبه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اونه لیدلو نو د هغوئي لټون مو شروع کړو، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په یو غر باندې په لَمانځه ولاړ اولیدل شو، مونږه اولیدل چې وریځ په هغوئي سورے کړے دے. چې کله به مونږه د دښمن مقابلے له تللو نو د هغوئي د زیاتو لُمونځونو په وجه به مونږه د شپې څوکۍ هم نه کوله. یوه ورځ مونږه د شپې د ازمري د غړمبیدو آواز واوریدلو نو اوتښتیدلو، خو هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خپل ځائے په لَمانځه کښې مشغول وو. وروسته مونږه هغوئي ته اووئیل: آیا تاسو د ازمري نه نه ویریدئ؟ هغوئي اوفرمائیل: ماله د دې خبرې نه حیا راځي چې زه د الله پاک نه علاوه د بل چا نه اُويَرېږم. (حلیة الاولیاء،4/172،رقم:5154)

## ازمرے غړمبیدلو کښې څه وائي؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د ازمري خبرو ته غړمبیدل وائي. آیا تاسو ته پته ده چې ازمرے کله غړمبیږي نو څه وائي؟ د الله پاک په عطا سره د غیبو خبر ښودونکي خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم نه تپوس اوکړو: آیا تاسو ته پته ده چې ازمرے په غړمبیدلو کښې څه وائي؟ صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم عرض اوکړو: د الله پاک او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه ښه پوهیږي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: ازمرے وائي چې اے الله! ما په یو نیک انسان د مسلط کیدلو نه بچ کړې. (فردوس الاخبار،1/297، حدیث:2155)

حضرتِ علّامه عبد الرءوف مناوی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حدیث پاک په شرح کښې لیکي: د

حضور ﷺ دا فرمان د حقيقي معنې هم احتمال لري چې ازمرے واقعي خپل دې غرمبيدلو کښې د الله پاک نه دا دعا غواړي او د فرمانِ عالي شان دا معنٰى هم کيدے شي چې د ازمري په طبيعت کښې د نيکانو بندګانو مينه او هغوئي ته تکليف نه رَسَوَل ايښودے شوي وي. (فيض القدير،3/314)

## خپل رزق چرته بل ځائے اوګوره!

حضرت حماد بن جعفر رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ماته زما والدِ محترم اووئيل مونږ د يو لښکر سره اووتلو حضرتِ صِلَه بن اَشيَم عدوي رحمۃ اللہ علیہ زمونږ سره وو. د هغوئي دا معمول وو چې د شپې به د خلقو نه بيليدلو. ما اووئيل: "خلقو کښې د هغوئي عبادت مشهور دے. چې اوګورم چې دا څه عمل کوي. کله چې حضرت صِله بن اشيَم عدوي رحمۃ اللہ علیہ د ماسخُتن د لمُونځ نه پس څملاستلو. چې کله ټول اوده شول نو هغوئي پاخيدل او زما په خوا د بنړ [د جاخ بُوټو] طرف ته روان شولو، زه هم په هغوئي پسې روان شوم، هغوي اودس اوکړو او په لمَانځه اودريدلو، کله چې ئي لمُونځ شروع کړو نو ناڅاپه يو ازمرے د هغوئي خوا له راغے، زه يوې ونې ته اوختلم چې دا اوګورم چې هغوئي د ازمري نه تښتي او که نه، خو هغوئي رحمۃ اللہ علیہ هُم هغسې په لمُونځ ولاړ وو، کله چې هغوئي سجدے له لاړل نو ما زړه کښې اووئيل چې اوس به پرې ازمرے حمله کوي خو هيڅ اونه شو. هغوئي لمُونځ پوره کړو او ازمري ته ئي اوفرمائيل: اے سړے خور ځناوره! چرته بل ځائے کښې خپل رزق اوګوره. دې اوريدلو سره ازمرے په غرمبيدلو د هغه ځائے نه روان شو. بيا هغوئي د سحر پورې په لمَانځه کښې مصروفه اوسيدلو. د لمَانځه نه پس هغوئي کښيناستلو او د الله پاک تعريف ئي داسې اوکړو چې هغه شان تعريف ما چرته نه وو اوريدلے. بيا هغوئي دعا اوکړه: اے الله پاکه! زه ستا په بارګاه کښې سوال کووم چې ما له د جهنم د اور نه پناه راکړې، آيا زما په شان يو بنده دا جُرأت کولے شي چې ستا نه د جنت سوال اوکړي؟ بيا هغوئي بيرته تشريف راوړو او

سحر د هغوئي کيفيت داسې وو لکه چې ټوله شپه په يو طرف پروت وي او شپه ئې په اودو تيره کړي وي، او زما ښخپله چې ټوله شپه د ويښ اوسيدلو په وجه سحر کوم حالت وو، هغه الله پاک ته معلوم دے. (الزہد لابن مبارک، حدیث:863، ص295 ملتقطا)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مانندِ شمع تیری طرف لو لگی رہے  دے لطف میری جان کو سوز و گداز کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حرامو سپيره والے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حِليةُ الاولياء کښې دي: ازمرے صرف هغه کس خوري څوک چې حرامو ته نزدے کيږي. (حلیۃ الاولیاء، 99/6، رقم:7950)

عارف بِاللّٰه حضرتِ علامه دَميرى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د ازمري يو صفت دا هم دے چې هغه بے د جوولو نه په خپلو مخکښينو غاښونو په شوکولو ښکار خوري. د ازمري په خُله کښې لاړې کمې جوړيږي. هُم دا وجه ده چې د ازمري خُله اکثر ګنده وي. د ازمري صفت دا هم دے چې هغه جُرأت مند او بهادر وي خو د دې صفت سره سره هغه کښې بُزدِلي او کم هِمتي هم شته. د بانګې بانګ اوريدلو سره ازمرے پريشانه کيږي. د پيشو د خطرناک آواز نه ويريږي. د اور ليدلو سره حيرانيږي. د ازمري نيول ډير مضبوط وي. ازمرے د يو سرے خور ځناور نه هم نه ويريږي ځکه چې هغه يو [ځناور] هُم د خپل ځان برابر نه ګڼري. (حیاۃ الحیوان، 11/1)

اے عاشقانِ رسول! د الله پاک د شان نه زار شم! د ځنګل بادشاه ازمري کښې الله پاک خومره عجائبات ايښودي دي. داسې خطرناک ماتوونکے ځناور چې د هغه نه تقريباً ټول ځناور ويريږي. هغه د وړوکي شان ځناور بانګې په بانګ هم پريشانه کيږي او د پيشو د آواز نه ويريږي بلکه د اور په ليدلو پريشانه کيږي.

## په زمکه وړومبئ تبه په ازمري راغلي وه

حضرتِ وَهْب بن مُنَبّه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: حضرت نوح نَجِيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته د هر مخلوق نه د دوؤ جوړو خپله کشتئ کښې د کښينولو حکم اوکړے شو نو هغوئي د رَبّ په بارګاه کښې عرض اوکړو: اے زما ربه! زه به ازمرے او غوا، شرمخ او بيزه، کونتره او پيشو څنګه يو ځائے کووم؟ الله پاک ارشاد اوفرمائيلو: د دوئي تر مينځه نفرت چا پيدا کړے دے؟ هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: اے الله پاکه! تا. ارشاد ئې اوفرمائيلو: هم زه به د دوئي په مينځ کښې مينه پيدا کړم، تر دې پورې چې دوئي به يو بل ته تکليف نه رسوي. (حلية الاولياء،4/46،رقم:4699)

منقول دي چې حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام کله په کشتئ کښې ټول ځناور جوړه جوړه کړل نو اُمتيانو ئې عرض اوکړو: ”د ازمري خوا کښې به مونږ څنګه په آرام کښينو؟“ نو الله پاک په ازمري تبه راوستله ، په زمکه وړومبئ تبه هم په ده راغلي وه او په ازمري هميشه تبه غالبه وي. (البدايه والنهايه،1/173،174، حياة الحيوان،ص11)

## د برکت زمانه

صحابِي رسول حضرت ابو اُمامَه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بيانوي چې حضور اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يوه ورځ مونږ له خطبه راکړه د هغې زياته حِصَّه د دَجَّال ، د هغه د راوتلو، د هغه د فتنے او د هغه د مودے په حقله وه او خطبه کښې ئې دا ارشاد هم اوفرمائيلو چې حضرتِ عيسیٰ بن مريم عَلَيْهِ السَّلَام به زما اُمَّت کښې د انصاف کوونکي امام او عدل کوونکي حاکم په صورت کښې راکوزيږي، د خلقو د زړونو نه به خپل مينځ کښې بغض او کينه ختمه شي، د هر قسمه زهريله ځناورو زهر به ختم شي تر دې پورې چې که چرې يو ماشوم د مار په خُله کښې لاس هم ورکړي نو هغه ته به هيڅ نقصان نه رسوي او که چرې يوه ماشومه د ازمري خوا له لاړه شي نو ازمرے به هغې ته نقصان نه رسوي. (حلية الاولياء،6/115،رقم:8009)

بھیڑ کو خوف نہ ہو شیر سے جو تم چاہو تم جو چاہو تو بنے شیر غنم کی صورت
(سامانِ بخشش، ص86)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# چې ازمرے کله ناجوړه شي نو څه کوي؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ازمري د بوډاوالي نښه دا ده چې د هغه غاښونه ډير غورزيږي. سلطانُ الواعِظين مولانا ابو النور بشير کوټلوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکي: کله چې ازمرے ناجوړه شي نو بيزوګان [يعني شادوګان] خوري نو ښه شي او چې کله پخپله زخمي شي نو شرمخان پرې راجمع شي او مات ئې کړي. (عجائب الحيوانات، ص20)

# ګستاخِ رسول شير مات کړو

منقول دي چې د الله پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، محمدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله آيتِ مبارکه: وَ النَّجْمِ اِذَا هَوٰى ۙ﴿۱﴾[1] (1) تلاوت اوفرمائيلو نو عُتبه بن ابو لهب اووئيل: "زه د نجم (يعني ستوري) دربّ نه مُنکِر يم." حضور نبيِّ پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عُتبه خلاف دعا اوکړه "اَللّٰهُمَّ سَلِّطْ عَلَيْهِ كَلْبًا مِّنْ كِلَابِكَ يَنْهَشُهٗ" يعني يا الله! په ده باندې خپلو سپو کښې يو سپے مسلط کړې چې دا مات کړي." کله چې عتبه د خپلو ملګرو سره د شام په لور په سفر روان شو، د زَرقا مقام [د يوے علاقے نوم دے هغې] ته چې کله اورسيدل نو د يو ازمري غړمبا ئې واوريدله، عتبه د ويرې نه په رپيدو شو. خلقو اووئيل: "ته ولې رپيږې؟ قسم په خدائے! مونږ ټول يو ځائے يو." عتبه اووئيل: "محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) زما خلاف دعا کړې ده او قسم په خدائے! آسمان په هيڅ چا سورے

---

[1]--- [مَفهوم] ترجمهٔ کنزُالایمان: د هغه ښکلي پرقيدونکي ستوري محمد قسم کله چې هغوئي د معراج نه را کوز شو- (پ27، النجم:1)

نه دے کړے څوک چې د محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نه زيات ريښتونے وي." بيا هغوئي د مانښام ډوډئ اوخوړه خو عتبه ډوډئ له ګوتې هم ورنوړلې. د خوراک نه پس چې کله د اوده کيدلو وخت شو نو د قافلے خلقو څلور واړه طرفو ته خپل سامان کيښودو او عتبه ئې په خپل مينځ کښې څملوو. په دې کښې يو ازمرے په قلاره قلاره راغے او يو يو ئې بوئي کولو، آخر دا چې عتبه ته اورسيدو او هغه ئې اُونيوو او مړ ئې کړو. عتبه خپلو آخري سلګو کښې وئيل: "ما تاسو ته وئيلي وو چې محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په ټولو خلقو کښې زيات ريښتونے دے." (المستطرف، 178/2. سنن الکبریٰ للبيهقي، 346/5، حديث: 10052)

حضرت علامه دميري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: بعضې روايتونو کښې دي چې ازمري عتبه داسې مات کړو چې ټوټې ټوټې ئې کړو. عتبه په دې وئيلو وئيلو کښې مړ شو چې زه ازمري مړ کړم. د هغې نه پس خلقو هغه ازمرے ډير اولټولو خو پيدا ئې نکړو. (حياة الحيوان، 12/1)

جو کوئی گستاخ ہے سرکار کا　　وہ ہمیشہ کے لئے فی النّار ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ښپې پړقيدونکي سترګې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! وائي چې: د ښپې د څلورو ځناورو سترګې پړقيږي: د ازمري، پړانګ، پيشو او افعۍ مار (يو زهريله مار [چې په اُردو کښې ورته ناګ وائي]). (المستطرف، 177/2) ازمرے حرامو ځناورو کښې دے که چرې د پړانګ يا ازمري وازګه اوخوړلے شي نو زړه کښې سختي پيدا کيږي ځکه چې دا ماتوونکي ځناوران دي او د ماتوونکو ځناورو خوراک حرام دے ځکه چې حضور نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تيرو غاښونو (کوم چې د مخکښينو غاښونو سره وي) ځناورو او په پنجو د ښکار کوونکو ځناورو د خوړلو نه منع فرمائيلې ده. (ابو داود، 498/3، حديث: 3803)

# د ازمري او د پړانګ خرمن

فرمَانِ مُصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: (د رحمت) فرښتے د لارې هٰغه ملګرو سره نه اوسي په کومو کښې چې [د چا سره] د پړانګ خرمن وي. (ابوداؤد،93/4،حدیث:4130) ځینې مالداره خلق خپلو کورونو کښې د ازمري خرمن د نمائش د پاره کېږدي. دوئي ته په خپلو نیتونو غور پکار دے. خدانخواسته چې که چرې د دې نه خپله واه واه یا نورو ته ځان ښودل مقصود وي نو رښتینې توبه دې اوکړي. د پړانګ او ازمري په خرمن د کښیناستلو نه ځکه منع راغلې ده چې دې سره تَکَبُّر پیدا کیږي. څنګه چې د ازمري او پړانګ په نوم کښې تاثیر دے چې چاته ازمرے اووئیلے شي نو هغه خوشحالیږي. دغه شان د دوئي د خرمن هم خپل اثرات دي څنګه چې بکس کښې د ازمري د خرمن ټوټه کیښودلے شي نو وَینے او سپږئ [وړوکي وړوکي الوتلو والا چې په غله، غنم وغیره کښې کیږي هغه] ئې په خوا هم نه ورځي. د ازمري خرمن چې د بل یو ماتوونکي ځناور په خرمن کیښودلے شي نو د هغه ویښته به اورژیږي. د ازمري آواز مګر مچھ وژني. که د ازمري وازګه په لاس اولګولے شي نو یو ماتوونکے ځناور به هم نزدې نه راځي. (حیاۃالحیوان،1/ 22ملتقطا)

# دا شان د هغوئي د غلامانو دے

حضرت علامه علي قاري رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ فرمائي: د حضورِ غوثِ اعظم، شیخ عبد القادر جیلانی رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د مشهور خلیفه حضرت شیخ علی بن هیتی رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ په کراماتو کښې دي چې که چرې خوک د ازمري د حملے په وخت هغوئي ته آواز اوکړي نو ازمرے د هغه ځائے نه بیرته ستون شي. (نزهۃالخاطر الفاتر،ص25)

د اللہ پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

سگ ہوں میں عُبیدِ رضوی غوث و رضاؔ کا — بھاگتے ہیں میرے آگے شیر بَبر بھی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ازمرې نه د حفاظت دعا

حضرت ابراهيم بن اَدهَم رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه يو ځل د خپلو ملګرو سره په سفر روان وو، په لاره کښې يو ازمرے راووتلو، هغوئي خپلو ملګرو ته اوفرمائيل دا دعا اولولئ: "اَللّٰهُمَّ احۡرُسۡنَا بِعَيۡنِكَ الَّتِیۡ لَا تَنَامُ وَاحۡفَظۡنَا بِرُكۡنِكَ الَّذِیۡ لَا يُرَامُ وَارۡحَمۡنَا بِقُدۡرَتِكَ عَلَيۡنَا فَلَا نَهۡلِكُ وَاَنۡتَ رَجَاؤُنَا يَا اَللّٰهُ يَا اَللّٰهُ يَا اَللّٰهُ يعني يا الله پاکه! د خپل کرم په هغه نظر زمونږه حفاظت اوکړې کوم چې غافله نه دے، د خپل هغه مدد په ذريعه زمونږه حفاظت اوکړې کوم چې نه زائله کيږي او په خپل قدرت سره په مونږ رحم اوکړې چې مونږ هلاک نه شو، يا اللهُ! يااللهُ! يا اللهُ! زمونږ اميد هم ته ئې." کله چې قافلے والؤ دا دعا اولوستله نو ازمرے اوتښتيدلو. (المستطرف.179/2) يو بزرګ فرمائي: زه د هرې ويرې په معامله کښې دا دعا وايم او ما د دې برکتونه حاصل کړي دي. (حياة الحيوان.14/1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ازمرې نه مه ويريږئ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ازمرے که څومره هم خطرناک او ماتوونکے ځناور دے خو بيا هم د الله پاک مخلوق دے، څنګه چې په شروع کښې بيان شوي دي چې دا صرف په هغه حالت کښې مسلط کيږي چې کله بنده د الله پاک نه علاوه د بل چا ويره هم په زړه کښې ساتي، مومن بنده چې کله صرف د خپل خالق او ما لک ويره په زړه کښې ساتي نو هغه ته طاقت او بهادري ورکولے کيږي . د ډيرو بزرګانو داسې واقعات موجود دي چې ازمرے به د هغوئي نه ويريدلو هم او د وفاداره سپي په شان به ئې لکئ خوزوله او د هغوئي د خدمت د پاره به شاته شاته روان وو ځکه د ازمرې نه د ويريدلو په ځائے د خالق او مالک ويره په زړه کښې پيدا کړئ که چرې هغه اوغواړي

نو ازمرے به د حملے کولو په ځائے د تابعدار خادم په شان خدمت شروع کړي، ځنګه چې مشهور صحابيِ رسول حضرتِ سفينه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ يو ځل روم کښې د خپل لښکر نه بے درکه شولو، هغوئي لښکر تلاش کولو پسې بيرته را روان وو چې هغوئي يو ازمرے اوليدلو. حضرت سفينه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوفرمائيل: اے ابو الحارث (دا د ازمري کنيت دے) زه د نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خادم سفينه يم. ما سره دا معامله شوې ده. دې کښې ازمري لکئ اوخوزوله او د هغوئي خوا کښې اودريدلو (او په صحيح لار ئي روان کړو) حضرت سفينه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به چې [په لاره] هر قِسم آواز اوريدلو نو ازمرے به ئي اونيولو او د ازمري سره روان وو تر دې پورې چې هغوئي اسلامي لښکر بيامونډلو. د دې نه پس ازمرے بيرته روان شو. (مشكاة المصابيح،2/400،حديث:5949 . دلائل النبوة،6/45)

## د سفينه نوم وجه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! حضرت سفينه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته "سفينه" لقب د بارګاهِ رسالت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه عنايت شوے وو. حضرتِ مفتی احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: يو سفر کښې يو غازي ستړے شو نو د هغه ټول بوج هغوئي (يعني حضرت سفينه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) اوچت کړو، خپل بوج، د حضور انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سامان او د هغه غازي سامان ټول ئي اوچت کړل. سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ته خو نن سفينه يعني کشتئ شولې. د هغې نه پس د هغوئي لقب سفينه شولو، اصلي نوم ئي ورک شولو.
(مرآة المناجيح،5/77)

## سخته کښې نسبت پکار راغے

امام نجم الدين غزّی شافعی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د حضرت سفينه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره د ازمري والا واقعه دوه ځله يا د دې نه زيات ځله پيښه شوي وه او هر ځل ازمرے د هغوئي تابعدار شوے وو. دا د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عظيم کرامت دے. (حسن التنبه،11/472)

سُبْحٰنَ الله! د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نسبت هم څه ښکلي برکتونه دي، کاش!

چې مونږ ته هم د رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حقيقي غلامي رانصيب شي او زمونږ نسبتونه سلامت پاتې شي.

تیری نسبت نے سنوارا میرا اندازِ حیات    میں اگر تیرا نہ ہوتا سگِ دنیا ہوتا

**اے عاشقان صحابه و اهل بيت!** د حضرت سفينه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ازمري والا واقعه کښې چې څنګه د هغوئي د همت او بهادرئ بيان دے چې هغوئي د ازمري په ليدلو اونه ويريدلو. د دې سره سره د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غلامئ باندې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم د عقيدے او اعتقاد د مضبوطتيا پته هم لګي چې په دومره سخت مشکل وخت کښې هم حضرت سفينه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ رسول کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د خپلې غلامئ نسبت ياد کړو، چې صرف د نسبت يادولو سره د ازمري د شر نه حفاظت کيدے شي نو که چرې په مشکل وخت کښې حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ياد کړے شي نو څنګه څنګه مسئلے به حل کيږي. حضرت سفينه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ځان ته د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلام اووئيلو نو د ځنګل بادشاه ازمري ئې تابعداري شروع کړه. پته اولګيده چې د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلامان ازمري هم پيژني بلکه د هغوئي حکم هم مني. دا خبره د پنجابئ يو شعر کښې څه ښکلې بيان شوې ده:

شیر کہیا سفینے تائیں سُن راہی راہ جاند
جو غلام رسول اللہ دے آسیں غلام اُونہاندے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم مينه په زړونو کښې د زياتولو د پاره د يو بل جنتي صحابي، د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ يوه واقعه اولولئ او د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مينه په خپل زړه کښې زياته کړئ.

## دوه غيبي ازمري

يو ځل د روم د بادشاه يو عجمي قاصد مدينهٔ پاک ته راغے او د خلقو نه ئې د مسلمانانو د دويم خليفه امير المُومنين حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د کور پته اوپوښتله. د هغه خيال وو چې هغوئي به عاليشان محل کښې اوسيږي، خلقو ورته اووئيل چې دا وخت به امير المُومنين په صحرا کښې چيلۍ رالوَشي. د هغوئي لټون کښې هلته اورسيدلو نو اوئې کتل چې هغوي د خرمنې دُرَّه د سر مبارک لاندې اېښودې ده او په زمکه آرام کوي. قاصد چې هغوئي په زمکه په آرام کولو اوليدلو نو ډير حيران شو، هغه په زړه کښې اووئيل: "د مشرق او مغرب خلق د دوئي نه ويريږي او دوئي په زمکه آرام کوي او څوک محافظ هُم ورسره نشته. معاذ الله! د دوئي شهيد کول څومره آسان دي." کله چې هغه په خپله ناپاکه اراده توره راويستله نو ناڅاپه د چرته نه دوه "غيبانه ازمري" راښکاره شو او د هغه طرف ته ئې ورمنډه کړه. د ازمرو په ليدلو هغه هيبت واخستو او په لړزان شو، د ويرې په وجه ئې د لاس نه توره پريوتله. حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ راپاڅيدلو او د ويرې سبب ئې ترينه اوپوښتلو نو هغه ټوله خبره اوکړه. هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د هغه سره نرمي اوکړه او هغه ئې معاف کړو. عجمي قاصد د مينې د دې سلوک نه ډير متاثره شو او کلمه ئې اووئيله مسلمان شو. (تفسير کبير، پ15، الکهف، تحت الآية:9/7، 433. فيضان فاروق اعظم، 1/644) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## چې څنګه ئې کُنيت هغه شان صحابي

اے د فاروق اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عاشقانو! د رسولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مينې صرف په ژبه دعوىٰ کول آسان دي خو په رښتيا د رسول غلام جوړيدل ډير ګران دي او حقيقي سعادت مندي هم دا ده چې د چا ژوند د رسول صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غلامۍ کښې تيريږي د هغوئي شان ډير اوچت وي، څنګه چې تاسو د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر

فاروق اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ عظيم الشان کرامت اولوستلو. د هغوئي کُنيت ابو حَفص دے او ”حفص“ عربئ ژبه کښې د ازمري بچي ته وائي. (مناقب امیر المؤمنین عمر بن الخطاب، ص14) هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هم د اسلام ازمرے وو او د هغوئي نه اسلام ته ډيرې فائدے او کاميابئ نصيب شوې دي، دغه شان دا کنيت په هغوئي باندې پوره پوره صادق راځي.

خدا کے فضل سے میں ہوں گدا فاروقِ اعظم کا
کرم اللہ کا ہر دم نبی کی مجھ پہ رحمت ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ازمرو به سجده کوله

صحابيِ رسول حضرتِ سلمان فارسی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائيلي دي چې: د حضرت ابراهيم خليل الله عَلَیۡہِ السَّلَام د پاره به دوه ازمري اوړي ساتلے کيدل بيا به هغه په هغوئي ورپريښودلے شول نو هغه ازمرو به د لوږې باوجود هغوئي عَلَیۡہِ السَّلَام په خپله ژبه څټلو او د هغوئي مخې ته به په سجده پريوتل. (مصنف ابن ابی شیبۃ، 448/7، حدیث:9)

بہرِ شبلی شیرِ حق دُنیا کے کتّوں سے بچا
ایک کا رکھ عبدِ واحد بے رِیا کے واسطے

د دُعائيه شعر مفهوم: يا الله پاکه! ما د خپل ازمري حضرت ابو بکر شبلي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ په وسيله د دنيا د سپو ( يعني د مال او دولت د حرص لرونکو) نه بچ اوساتې او د حضرت عبد الواحد تميمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ په خاطر ما د يو در کړې.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د ”کامل مومن“ د 8 حرفونو په نسبت د مومن بنده د خاصيتونو د ازمري سره تقابل

(1) چې څنګه ازمرے ډير رُعب او جلال والا وي دغه شان کامل مومن د ”اَشِدَّآءُ عَلَی الۡکُفَّار“ ژوندے تفسير وي او د هغوئي د نعرهٔ تکبير د ګرزا نه کافران ويريږي.

(2) ازمرے د نورو ځناور ښکار کړے شوے ځناور نه خوري او مومن مسلمان هم ذبح شوے خوري. (3) د سپي جوتهٔ اوبه ازمرے نه څښي او کامل مومن هم پليت او حرام څيز نه خوري. انسان له پکار دي چې هغه په خپل لاس ګټلے خوراك اوخوري او د نورو خلقو مال ته نه ګوري. (4) ازمرے دومره بهادر دے چې د هغه د آواز اوريدلو سره ځناور تښتي خو هغه پخپله د بانګي د بانګ نه پريشانه کيږي، دغه شان د کامل مومن د تکبير سره شيطان تښتي خو مومن د غريب او د مظلوم د آه نه ويريږي. (5) د ازمري بدن ګرم وي او د کامل مومن بدن د الله پاک په مينه کښې ګرم وي. (عجائب الحيوانات، ص22 بتغير، حسن التنبه، 465/11) (6) څنګه چې ازمرے په لوږه کښې د صبر نه کار اخلي دغه شان کامل مومن په روژه کښې د ربُّ الانام په رضا، راضي وي او د لوږې او تندې برداشت کولو په ذريعه ثواب ګټي. (7) ازمرے په غرمبيدلو کښې د الله پاک په بارګاه کښې دا عرض کوي چې يا الله پاکه! ما په کوم يو نيک بنده مه مسلط کوې. دغه شان کامل مومن دعا کوي چې: يا الله پاکه! زما د لاسه په يو مخلوق هم ظلم مه کوې. د بوډا ازمري نښه دا ده چې د هغه غاښونه غورزيدل شروع شي او د الله کريم نيک بنده چې کله بوډا شي نو هغه د الله پاک په بارګاه کښې زيات شکته کيږي (يعني سجدے کوي) چې منزل (يعني مرګ) ئې نزدې راغلے دے.

مومن کو کیوں ہو خطرہ کہیں پر　　دِل پر ہے کندہ نامِ محمد

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هر حال کښې ويريږي

د يو عالِم دين په خدمت کښې عرض اوکړے شو: څه وجه ده چې عارف (يعني د الله پاک پيژندونکے) په هر حال کښې ويريږي؟ نو هغوئي ارشاد اوفرمائيلو: ځکه چې هغه ښهٔ پوهيږي چې الله پاک د بنده په هر حالت کښې په رانيولو قدرت لري. ځکه هغه عارف (يعني د الله پاک پيژندونکے) په يو حال کښې هم نه په امن کښې وي او نه

په سکون کښېږي. (قوت القلوب،1/394)

## د الله پاک نه ويره ښنګه پکار ده

الله پاک حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته وَحِي اوفرمائيله: اے داؤده! زما نه اُويَرېږه! ښنګه چې ته د نقصان رسوونڪي ماتوونڪي ځناور نه ويرېږې. حضرتِ شيخ ابو طالب مکّی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د ماتوونڪي ځناور نه انسان د خپلو ګناهونو په وجه نه ويرېږي بلکه د هغه د طاقت او قوت په وجه ويرېږي ځکه چې د هغه په مخ هيبت او رُعب موجود وي. (قوت القلوب،1/402)

## الله پاک نه د ويرې فضيلت

حضور پُرنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ستاسو رَبّ اِرشاد فرمائي: د دې خبرې مستحق زه يم چې زما نه اُويَرېږئ او خوک چې زما نه ويرېږي نو زما شان دا دے چې زه هغه اوبخښم. (سنن دارمی،2/392، حديث:2724)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آيا په ما کښې د الله نه ويره شته؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د چا په زړه کښې چې د الله پاک نه ويره وي هغه يوې ګناه ته هم نه نزدې کيږي. اوس به مونږ له دا کتل وي چې زمونږ په زړه کښې د الله پاک نه خومره ويره ده؟ آيا د الله پاک ويره لرونڪے لمُونځ، روژه او زکوٰة ورکولو کښې کوتاهي کولے شي؟ آيا د الله پاک ويره لرونڪے په دهوکه مال خرڅولے شي، حرام مال ګټلے او د سود او رشوت لين دين کولے شي؟ ګيره خرئيل او د يو موټي نه کمه ساتل دواړه حرام دي نو آيا د الله ويره لرونڪے ګيره خرولے يا ئې [د يو موټي] نه کمولے شي؟ آيا د الله پاک ويره لرونڪے په انټرنيټ، سوشل ميډيا وغيره فلمونه،

ډرامے، فُحش خیزونه کتلے او سندرې اوریدلے شي؟ آیا د الله پاک ویره لرونکے د مور، پلار، ورونړو، خویندو، خپلوانو بلکه د عامو مسلمانانو زړونه ازارولے شي؟ آیا د الله پاک ویره لرونکے کنزلې، دروغ، غیبت، **چُغلي**، وعده خلافي، بدنظري، بے حَیائي، بے پردګي وغیره وغیره جرمونه کولے شي؟ آیا د الله پاک ویره لرونکے غلا، شوکه، دهشت ګردي او د قتل و غارت په شان خوفناک ګناهونه کولے شي؟ ډیر ګناهونه بنده په دې وجه نه کوي چې که چرې فلانکي اولیدم نو عزت به مې خراب شي، که فلانکي ته پته اولګیدله نو ډیر به اوشرمیږم. آه! آه! آه! زمونږ رحیم او کریم **رب** زمونږ ټول حرکتونه ویني، کاش! چې مونږه په خپلو زړونو کښې د هغه ویره اوساتو او صرف د هغه د ویرې نه ګناه پریږدو. د ګناهونو نه بچ کیدلو او د نیکو کولو ذهن جوړولو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي د خوږ خوږ ماحول سره وابسته شئ او هره میاشت عاشقانِ رسول سره د درې ورځو مدني قافله کښې د سنتو ډک سفر کوئ او هره ورځ د خپلو اعمالو د جائزے په ذریعه د 72 نیکو اعمالو رساله کښې خانې ډکوئ او د هرې میاشتې په وړومبي تاریخ ئې خپل ذمه وار ته جمع کوئ. اِنۡ شَآءَاللهُ الۡکَرِیۡم د دې سره به مو د الله پاک ویره او عشقِ مصطفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې اضافه کیږي او په سُنَّتو باندې د عمل کولو ذهن به مو جوړ شي.

زمانے کا ڈر میرے دِل سے مٹا کر　　تو کر خوف اپنا عطا یا الٰہی

ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ　　میں تھر تھر رہوں کانپتا یا الٰہی

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

ٱلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائي کښې کېدونکي **د دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره ټوله شپه تېروئ ❀ د سُنّتو د تربيَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❀ هره ورځ د **"فِکرِ مَدِينه"** په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په **"مَدَني اِنعاماتو"** عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com